# میاشتنی رپوټ – جولای ۲۰۱۷
# د افغانستان له ملکي وګړو سره د مرستې پروګرام – (ACAP III)

## مهمې کړنې:

- د ACAP III پروګرام په کابل کې د غبرګولي د لسمي نېټې د چاودني، چې د رپوټونو له مخې پکښې ۱۵۰ تنه مړه او ۴۰۰ نور ټپیان شول، د قربانیانو لپاره د بېړنیو مرستو رسولو د کار ستره برخه بشپړه کړه. په دې ترڅ کې ۴۸۶ کورنیو باندې خوراکي او غیر خوراکي توکي ووېشل شول او همدارنګه د ارزونې او د لنډ مهالو خدمتونو د وړاندې کولو دوام لري.
- د جولای میاشتې په ترڅ کی د ACAP III سیمه ییزو ډلو په ټول هیواد کی د شخړو اړوندې ۲۴۱ پېښې وارزولې. په دغو پېښو کې ۱۴۹ کسان مړه او ۳۳۲ نور ټپیان شوي ول.
- د ACAP III  پروګرام لخوا په ټول هېواد کې د بېړنیو مرستو د وېش ۵۷ پروګرامونه په لاره واچول شول. د دغو پروګرامونو په لړ کې د بېړنیو مرستو ۷۶۶ کڅوړې ووېشل شوې چې ۶۸۶۴ کته اخیستونکي (۳۴۵۹ نارینه او ۳۴۰۵ ښځینه) ورڅخه برخمن شول.
- د جولای میاشتې په ترڅ کې د ACAP III پروګرام لخوا، د مکتب شاګردانو ته د ډلییز غونډو نیولو په ګډون، ۱۳۴۹ تنه نویو ګټه اخیستونکو (۹۱۲ نارینه وو او ۴۳۷ ښځینه) ته رواني – ټولنیز خدمتونه او ۳۴۵ نویو ګټه اخیستونکو (۱۱۸ ښځینه او ۲۲۷ نارینه) ته د فزیوتراپي خدمتونه وړاندې شول.
- د ACAP III پروګرام لخوا ۱۵۹ د نفقی ګټلو کڅوړی ووېشل شوې چی ۱۲۸۲ ګټه اخیستونکي (۵۶۸ نارینه او ۷۱۴ ښځینه) ورڅخه برخمن شول.
- په ټولنیزو رسنیو کې د ACAP III دوه کیسې خپری شوی. تاسو کولای شې په USAID، UNMAS او MAPA فیسبوک سایټونو او همدارنګه د UNMAS ټویټر فیډ کې یی وګوری.

## ستونزی او عملیاتی ساحه:

جولای میاشت کې یو شمېر داسې پېښې رامینځته شوې چې ګڼ شمېر ملکي وګړو ته یې مرګ ژوبله واړوله. یو شمېر دغه پېښې په لاندې ډول دي:

- د جولای ۱: د افغانستان په ختیځ اچین ولسوالی د سړک د غاړی ماین چاودنه کی د څلورو ماشومانو په ګډون نهه تنه ووژل شول او دیارلس تنه نور ټپیان شول چی ټول ملکی وګړی وه.
- د جولای ۲۳: په تیوره ولسوالی کی د دولت مخالفینو او حکومتی ځواکونو ترمنځ نښته وشوه چی د ملکی تلفاتو لامل وګرځیدله.
- د جولای ۲۳: د ننګرهار ولایت د هسکه مېنې ولسوالۍ اوسېدونکو د وینا له مخې اته تنه ملکي وګړي په دغې ولسوالۍ کې  د خارجی ځواکونو په هوایي بریدونو کې ووژل شول او لس تنه نور ټپیان شول.
- د جولای ۲۴: یوه ځان مرګي برید کوونکي خپل له چاودېدونکو مهماتو ډک موټر ته د کابل ښار په لویدیځه برخه کې چاودنه ورکړه چې له امله یې لږ تر لږه ۳۶ تنه ملکي وګړي ووژل شول او څه دپاسه ۴۰ نور، د ښځو او ماشومانو په ګډون، ټپیان شول.
- د جولای ۲۸: د ترلاسه شویو رپوټونو له مخې، د بغلان ولایت لویدیځ کې پرته د مرکزي بغلان په نوم ولسوالۍ کې د امنیتي ځواکونو او بلواګرو تر مینځ په اته ورځنۍ جګړه کې لږ تر لږه پنځه تنه ملکي وګړي ووژل شول او ۱۲۵ نور ټپیان شول او همدارنګه د ګڼ شمېر هغوی کورونه هم ویجاړ شول.
- د جولای ۳۱: بلواګرو په کابل کې د عراق پر سفارت برید وکړ چې په ترڅ کې یې دوه ملکي وګړي مړه شول.

د هېواد په ګوټ ګوټ کې د بریدونو زیاتېدلو د ACAP III پروګرام د ارزونې پرسونل په ګډون د دغه پروګرام سرچینې تر فشار لاندې راوستې دي. سربېره پر هغې، جګړې د ګڼ شمېر سړکونو د بندېدلو لامل ګرځېدلي دي چې د ACAP III لخوا ولایتونو ته د مرستندویه کڅوړو پر رسېدو کی یی خنډ پیدا کړي.

*د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت کې د انګرېزي ژبې د زده کړی ټولګې*



*د سیمې خلک د ACAP III په ملاتړ د ماینونو د ګواښ په اړه پوهاوی ترلاسه کوي*



**د اړیکو لپاره:** نیهال سماراسینګهـ، د پروژې مدیر، nihals@unops.org